زمـــري مـحقق

# استاد نوميالي نه هيردونكي شخصيت

## ښوونكي او زده كوونكي

په خواشني سره مو خبر اخيستي دي چي د اكادمسن كانديد استاد نوميالي دروان كال د اكتوبر د مياشتي په ( ۴ ) نيټه په ډنمارك كي په حق ورسيدي جنتونه دي په برخه سي .

شك نشته چي داكادمسن كانديد استاد نوميالي ناڅاپه مړينه د افغانستان د خلكو په تيره بيا د اوسني عصر د علمي او فرهنگي حلقو لپار جبران نه منونكي ضايعه ده .

استاد نوميالي خپلي لومړني زده كړي د مسجد څخه پيل كړي له همدي امله په ديني او مذهبي مسايلوكي زيات معلومات او لوي لاس درلودي . خو استاد د خپل طبيعي استعداد له مخي ډير ژر وكولاي سواي چي پر انگليسي ژبي باندي هم حاكميت تر لاسه كړي او په دي وسيله د علومو بيلابيلو برخو كي د نړيوالو پوهانو دزده كړو او تجربو څخه گټه واخلي استاد كه د يوي خوا خپله تل په زده كړه مطالعه او څيړنه لگيا ؤ د بلي خوا يي تل زيار ايستي چي خپله علمي پانگه او زده كړي دنورو سره شريكي كړي .

زه چي د ځلويښتو كلونو څخه زياتي زماني يعني دهغه وخت راهيسي چي د

ښوونځي په دريم څلورم ټولګي کي وم او زما پلار مرحوم محمد علم بڅرکي او استاد نوميالي سره په يوه دفتر کي کارسره کاوه د استاد د پيژندني وياړ لرم .هغه وخت به زه هم د لوست ليك د زده کړي په مقصد هلته ورتلم . استاد نوميالي به زما د هغه وخت دذهن او درك سره سم داسي پوښتني راته طرح کولي چي زما د ذهني ودي او معلوماتو د زياتوالي سبب کيدي او زما لپاره دا د زده کړو لومړني علمي مدرسه وه چي د نورو علمي مسايلو تر څنګ يي فلسفي مسايلو بنسټ را جوړ کړاو زما په شان نور په سلهاوو ځوانانو په روزنه او تنويرولو کي ستره ونډه اخيستي ده .ځکه نو وايو چي استاد نومالي په خپل ټول ژوند کي هم معلم او هم متعلم ؤ .

د افغانستان د علوموپه اکاډمي کي مي هم په خپلو علمي او مسلکي کارونو کي دده د ارزښتناکه مشورو څخه ګټه اخيستل .خو د هيواد اړودوړ د دي سبب سو چي د يوي مودي لپاره زموږ اړيك سره وشليږي خو چي په پاي کي مو دلته په ډنماك کي بيا سره پيداکړه . د استاد د راتګ نه مخکي لا موږ دلته په ډنمارك کي د افغانستان دفرهنګ د ټولني په نوم د يوي فرهنګي اتحاديي بيسټ ايښي ؤ چي د استاد په راتګ سره دغه فرهنګي باغچه لا پسي وغوړيدل .

د اکادميسن کانديد محمد انور نوميالي که څه هم سيستماتيکي زده کړي نه دي کړي خو د خپل شخصي زيار او فطر استعداد په مرسته يي د فلسفي ، ټولنيزوعلومو ، تاريخ ، سجره پيژندني ، شعر او ادب په برخو کي ددومره زياتو معلوماتو لرونکي ؤ چي په رښتيا به هم د مربوطو څانګو د لوړو زده کړو څښتنان به تل حك پك ورته پاته کيدل ا و د هغه د معلوماتو او لارښونواو

مشورو څخه یې ګټه اخیستل .

دمرحو استاد نومیالي چې په انګریزي ، عربي او روسي ژبو مسلط ؤ او په ورستیو وختونو کي یې د ډنمارکي ژبې سره هم اشنایي پیداکړي او د مطالعو او څېړنو په برخه کي یې ګټه ځني اخستل ، یو زیات شمیر علمي ، اجتماعي کتابو نه ، شعرونه او ژباړي چې څه یې چاپ سوي او نور یې نا چاپه پاته موږ ته په میراث پرایښې دي . هیله ده چې دده پاته اثار ژر تر ژره د فرهنګي اتحادیو او د علم او فرهنګ د مینانو له خوا چاپ او د هیوادوالو د استفادي او استفاضې لپاره وړاندي سي .

زما په اند د استاد هغه اثار چې د شلمي پېړي په شپیتمو کلونوپه شاوخوا کي یې د ځوان او منور قشر د روزني او د یو بې تعصبه په علمي بیسټ ولاړ ذهنیت په خپرولو کي یې ستره ونډه لرلي ده ، دزیات ارزښت وړ دي . په دغه زمانه کي چې  په هیوادکي درونې اندو نوي نهضت کابو دنطفي په حال کي ؤ او د غوړیدو په لور یې په چټکي سره مخ په وړاندي ګامونه اخیستل، ددا ډول کتابو نو او لیکنو موجودیت ته جدي اړتیا احساس وه

په هغه وخت کي چې د چاپ دوسایلو امکانات ډیرمحدود، ابتداي او وروسته پاته بڼه درلوده نو د مطالعي مینوال مجبوره وه چې د استاد ( چې ډیر ښکلي خط یې درلودي ) په لاس کښل سوي لیکني او ترجمي په لاس او قلم ولیکي .

د بیلګي په توګه (ددولت ، کورني او قبیلي منشآ ) د انګلس اثر چې د انګریزي څخه  کابو ۱۸۰ پاڼو کي د مرحوم نومیالي  له خوا تقریبآ څلویښت کاله مخکي ژباړل سوي ،د مطالعي مینوالو ځوانانو به  کاربن پیپر په مرسته په لاسونو لیکي

او يو اويل ته به يي د مطالعي لپاره ورکوي .

برسيره په دي د اکادمسن کانديد شاعر او ټولنپوه نوميالي په وروستيو کلونو کي د شعر په نړي کي يو نوي ډول ژانر د پښتو د شعر او ادب نړي ته را داخلي کړ که څه هم زموږ دنورو پخوانيو شاعرانو لکه رحمن بابا او خوشحال خان او نرو شاعرانو په شعر ونو کي ددا ډول شعرونو بيلګي موندلاي سوخو د پښتو معاصرادب اوهنرکي استاد لومړني شخص دي چي ددغه ژانر ته چي دنړي د بيلابيلو هيوادونو په شعري جوړښت کي خلکو په تنوير کي په پراخه پيمانه ګټه اخستل سوي ده ، په تيره بياد شاعرانوپامرلنه را اړولي ده .ځکه چي د پښتو په هنر او ادب کي لکه چي لازمه ده دا ډول لڅو طنزډوله شعرونو (تخنونو) ته پاملرنه نه ده ورته سوي .د استاد نوميالي په قول دده ددغه ډول اشعارو د جوړيدو انګيزه په روسيه کي د روسي ادب او هنر د مطالعي او څيړني څخه تر لاسه کړه . ددغه تقريباً نوي ژانر چي په خنداورو او لڅو منظومو الفا ظو کي ډير ژور او په زړه پوري مفاهيم د طنز په ډول وړاندي کوي ، د خلکو ته د علمي او روښانه ذهنيت ورکولو په لاره کي يوه اغيزه ناکي وسيلي په توګه استفاده او استفاضه کيداي سي .

استاد نوميالي دغه ډول اشعارو ته د( تخنونو ) نوم ورکړي دي . او په دي ورستيو کلو نو کي به يي په يو شمير نسبتاً خصوصي مجلسو نو او محفلو نو کي په خپله فصيح ژبه ددوستانو دخندولو او په عين حال کي د تنويرولو په مقصد د ( تخنونو ) د مجموعي څخه ځني شعرونه لوستل له همدي امله ددغه ژانر مينوال ورځ په ورځ مخ په زياتيدو سول چي په يوه يا بل شکل به يي ددغو شعرونو د اوريدلو او ترلاسه کولو هڅه او تلاش کاوه .

د اکادمسن کاندید مرحوم نومیالي د تخنوني یو بیلګه :

سترګي مي کړي سپیني د حیا پرده مي څیري کړي
څه چي مي اغوستي وه هـــغه مي ټوله لیري کړه
شرم چي پټ کړي وه د سترګو له لیدو څخه
ووته بر بنډ هــرڅه د شرم له پوښـو څخه
ورغلم هینداري ته چي و ګورم د ځان بڼه
ومي لیده هلته د بي ډولــه یو حیوان بڼه
زه چي د جامو د تقلبه را بهر سومـــه
نوي ځانته ځیر د یو بیزو په شان اظهر سومه
شاباس پر"ډاروین ،، سه چي په ځان کي يي جهان ولید
دغه د کالو پـــه پټ انسان کي يي حیوان ولید
زه د " خورا ښه" اندام په حکم باټیدلي وم
یا د پټو سترګو په ایمان کي تیر وتلي وم
لوي لینګي مي پټ وه د وژغونو په ویښتانو کي
دواړه سري ډوب د کوناټو په غالبانو کي
وچ بي شیدو تي مي په سینه کي راوتلي وه
څخه چاد څه لپاره زما پر سینه باندي تپلي وه
خوټه يــوه لاندي بله باندي ځړيـــدلي وه
ډګه مي د خوټو په بستر کي غزيدليوه

ته کي نه مني نو ورسه يو ځل تجربه وکړه
زما په خير ته هم دا لځه ننداره وکړه
پورته که هرخومره پر سيدلي ماجراوي يو
پټ تر لباس لاندي موږ دغسي اشاوي يو
ماسکو ۱۹۹۶م

ډنمارک ۵_۱۱_۲۰۰۶